**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

**وزارت اطـــــلاعات وفرهنگ**

**د نیمروز اطلاعات و فرهنگ ریاست**

---

## د کرونا وایروس په اړوند د نیمروز فعالیتونه





**اول- د مرستو په پیسو لومړني مواد رانیول:**

د رسنیو او مدني ټولنو په وړاندي مو د خیمي هغه راټولي شوې پیسې، چې خلکو د ژمنۍ مرستو لپاره کړې وې وشمارلې او په هغه پیسو مو هغه توکي رانیول، چې خلکو ورته سخته اړتیا درلودل لکه: ډیټول صابون، ضدعفونی مایع، ماسکونه، دستکشي او سنیټیزر. دا ټول مواد مو پر هغه کورونو وویشل، چې غریب او اړمن کسان ول.

---





**دوهم- پر غریبو ، بیچاره او اړمنو کورنیو باندې د لومړنیو توکو ویشل او د عامه پوهاوي کمپاین:**

د هغه بې وزلو کورنیو پیژندل ترڅو د کرونا ویروس د مخنیوې مواد ورته ورسیږي. د تشخیص سره سم د زرنج ښار شاوخوا سیمو ته مو لومړني/بیړني مواد ور ورسول، د ویروس په اړه مو عامه پوهاوی او د چمتو شویو بروشرونو ویشل او په اړه یې معلومات وړاندي کول.

---

**درېيم- د خلاصو دوکانونو لکه: د لويو فروشگاوو او نانوايانو ومخې ته د نفر د درېدو ځای مشخصول:**



د زرنج ښار مرکز کې د دوکانونو و مخې ته مو د داېرو کښل ترڅو توکې رانيونکی  پر مشخص ځای ودرېږي. د دريدو پرمهال  يو متر واټن مراعت کړي.  د دايرو دکښلو سره سم د کرونا ويروس په اړه پوره خبرتيا او عامه پوهاوی ورکول.



---

**څلورم- د محلي رسنيو مسؤلينو سره د کرونا په اړه د (زموږ مسؤليت او رسالت تر عنوان لاندې جلسه :**



د رسنيو د مسولينو او محلي خبريالانو سره ناسته او د ويروس د مخنيوی په موخه لارښوونې او وړانديزونه شريک شول او پر لنډو صوتی او تصويري کليفونو تاکييد.



---

**پېنځم- د رياست لخوا د لنډو تصويري او صوتي کليفونو جوړول:**

د رياست لخوا د ويروس د مخنيوی په موخه لنډ لنډ کليپونو ترتيب او نشر شول. لاندې لينک کې يې کتلای او ليدلای سئ.

لينک: "رياست اطلاعات و فرهنگ نيمروز- د نيمروز اطلاعات او کلتور رياست"

**https://www.facebook.com/103929607644698-رياست-اطلاعات-و-فرهنگ-نيمروز-د-نيمروز-اطلاعات-او-کلتور-رياست/**

**شپږم- د کرونا په اړه لنډې بروشر او په ښار کې عامه پوهاوی:**



د ویروس د مخنیوې په موخه په ښار کې بروشونه توزیع شول او عامه پوهاوی تر سره شو.



---

**اووم- په رسنیو او د صحت عامې په ځینو مهمو غونډو کې په مسلسله توگه بحث او گډون:**



د محلي رسنیو پر سکرین او پریکونسیو باندې د کرونا بحثونه او لنډې سپارښتنې، د صحت عامې ریاست لخوا په جوړه شویو غونډو او رسنیو کې گډون.



---

**اتم- د صحت عامې په همکاري خپله ریاست اطلاعات او فرهنگ او نورې دولتې اداري ضد عفوني کول:**



د ریاست ټولې کار خونې ضد عفوني شوې او نوکریوال کارمندان مو چیک کړل دا هره ورځ پر ادارو د سیار یا گرځنده گروپ دی.

